ناول: رټل شوي ګناه

لیکوال: نامعلوم.

ژباړونکې:خواجه زی صیب.

نشرکونکې چینل: https://t.me/pashtoonovels0



(c) ketabton.com: The Digital Library

"بِسمِ اَللّهِ اَلرحمٰنِ اَلرحيم"

ځیني وختونه مورې په خپله خوښه یا ناخوښه یو داسې تېروتنه کوو چې زمورې پر ټول ژوند یې سیورۍ غورېږي. کله ناکله د یو چا سره زمورې د زړه کینه او دښمني مورې دې ته اړباسي چې یو داسې کار وکړو چې پای یې د بدمرغي څخه علاوه نور هېڅ هم نه وي، زما کیسه هم څه نا څه همداسې پېل کېږي ...

***

زمورې د واده دري کاله تېر شوي وو، خو ژوند مو ډېر خوښ نه و. ځکه چې مېړه مې زه د خپلې کورنۍ په غوښتنه راواده کړې وم او هغه له ما سره د یوځای کېدو هیڅ علاقه نه لرله.تل یې بې پروا رویه کوله او د هغه دا بد چلند زما زړه خوړلو،زمورې په منځ کې تل شخړې وې، ځکه چې زما مېړه مخکې له دې چې زما سره واده وکړي له یو بلې نجلۍ سره مینه درلوده، خو کورنۍ یې هغه ورته نه وه راواده کړې، او هغه نجلۍ هم اوس واده شوې وه.

زما کورنۍ له شتمنۍ او مال او دولت له پلوه په ټول کلي کې نوم درلود او تر ټولو غوره وه، نو زه چې د خپلې کورنۍ نازولې لور وم، زما پلار د ټولو غوښتونکو او خواستګارانو له منځه زه هغه هلک ته ورکړم چې په ټول کلي کې د اخلاقو او ښایست له پلوه مشهوره و.ټول د کلي انجونې د هغه غیرت او اخلاقو مینوالې وې، خو هغه هېچا ته پام نه کولو.زه چې له ماشومتوبه مې په پټه هغه سره مینه درلوده، بالاخره د کورنیو په خوښه مې هغه ترلاسه کړو او میرمنه یې شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو هیڅکله مې د هغه څخه د مېړه محبت ونه لید. هغه به ورځې او شپې په نورو ښارونو کې تېرولې او زما له حاله به بې خبره ګرځېدو، هر ورځ چې تېرېدل د هغه محبت زما څخه کم کېده، او تر دې چې زه یې خپله ښځه لا نه ګڼلم. زموږ د واده درې کاله تېر شول، خو زما اولاد و نه شو! او د هغه دلېل نه زما کوم مرضتیا وه او نه هم د خاوند! بلکې د هغه دلیل یواځې او یواځې دا وو چې خاوند مې زه نه غوښتلم او ماته نه رانږدې کېدو ....

د هغه د کورنۍ سره زما اړیکې ښې وې. دوه د لېوره ښځې مې درلودې، یوه له ما وړاندې واده شوې وه او یوه له ما وروسته واده شوې وه، دواړو ماشومان درلودل خو ما نه! زما او زما د مېړه اړیکې په ټوله کورنۍ کې د خبرو موضوع جوړه شوې وه،او زما کورنۍ غوښتل چې زه خپل د خاوند څخه طلاق واخلم، خو دا به څنګه ممکنه وای؟ما دا ټول سختۍ ومنلې او د خپل ځان لپاره مې ټول مشکلات وزغمل. یوازې دومره مې غوښتل چې هغه مې مېړه اوسېږي! زه پر هغه مینه وم هغه هم لېونۍ مینه ما یواځې غوښتل چې هغه زما خاوند اوسېږي نور مې هېڅ نه غوښتل.

هغه د خپل لومړني میني په خیالاتو کې ژوند کولو او زما پروا یې نه کوله. ځینې وختونه به ښه کېدلو، او د مېړه فرض به یې په خپله خوښه یا هم په بې اختیاره توګه ترسره کولو. کله ناکله به ما ورته وویل: فرید! ایا له ما سره مینه نه لرې؟ ایا زموږ حلال نکاح لږ هم ستا په زړه کې زما لپاره محبت نه دی پیدا کړی؟ خلک وایې کله چې د یو هلک او جنۍ نکاح وتړل شې نو الله "ج" د هغوی په زړه کې یو د بل لپاره مینه اچوي ایا ستا په زړه کې لږ هم زما لپاره مینه شتون نلري؟

زما د دې خبرو په ځواب کې هغه به زما خوا ته په دلسوزۍ وکتل او ویل به یې: له تا سره مینه لرم، ځکه چې تا زما ایمان مکمل کړ. روح مې دې لمس کړل،خو زه د خپل لومړۍ میني په لومو کې بند یم، دا زما په وس کې نه ده. له تا سره مینه لرم، خو دا مینه هېڅ شی نشي بدلولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همېشه يې داسې پېچلې خبرې کولې چې ما ته بې معنئ ښکارېدې، هغه به د دې خبرو د کولو وروسته په ژورو فکرونو کې ډوب شو، او خپلې توري سترگې به يې له ما اړولې او ځمکې ته به يې کتل.لکه دا خبرې چې دهغه لپاره يو حل شوی پوښتنه اوسېږي.

ما چې له هغه سره بې کچې مينه لرله، نو يوازې دومره مې غوښتل چې ورسره واوسم، د هغه همدم واوسم، او هر کار وکړم ترڅو چې هغه خپل تېر دردونه هېر کړي.حتی دا مې منلې وه چې که د مېړه لومړنی مينه يې مجرد وای، ما خپله د هغې خواستګاري کړې وايې او پخپله مې خپل ميړه ته راواده کړې وايې، ترڅو د مېړه په مخ مې د خوشالۍ موسکا ووينم.

يوه ورځ د خپلې خواښې او لېوره ښځو سره په کور کې مې اشک پخوو،چې د فريد غږ مې تر غوږ شو.ما چې درې اونۍ د هغه مخ نه و ليدلی او د هغه د بدن بوی مې نه و احساس کړی، بې قراره له ځمکې راپورته شوم، خپلې څادرې مې په لاسونو سم کړو، او په بيړه د حويلي دروازې خوا ته روانه شوم. نږدې چې دروازې ته ورسېدم او فريد مې وليد. نو زما په سترګو کې اوښکوي راجمع شوي، او لکه د پسرلي شمال چې زما د يخ او ژمني زړه منځ ته داخل شوی اوسيږی داسې مې زړه خوشحال شو، ما چې تل د فريد د يو مينه ناک نظر تلوسه په زړه کې لرله خو هغه مې هېڅکله په برخه شوی نه و، بې اختياره مې په مينه،مينه ورته کتل ...

څو شېبې وروسته، فريد هم زما خوا ته پام شو او په ژور نظر يې را وکتل او زما د حال پوښتنه يې وکړل، ما په ماته بنده ژبه په بېحد شوق هغه ته ځواب ورکړو.

له هغه وروسته مې سترگې هغه ښځې ته واوښتې چې د فريد شاته وه.يوه ښځه چې چادري يې اغوستې وه او په لاس کې يې يو پلاستيک نيولی و!لکه د فريد د خپلوانو څخه څوک وي؟ خو ما هېڅکله دا ښځه د دې څخه مخکې نه وه ليدلې!
کله چې هغې خپل مخ ښکاره کړ او زما سره يې روغبړ وکړ، يوه ښکلې او سپين مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرونکې ښځه وه، د هوسۍ په څېر سترګې یې وې،ما په خندا او د خوشحالۍ ډکې څېرې سره فرید ته مخ کړ او ومې پوښتل: دا ښځه څوک ده؟

هغه په ځواب کې راته وویل: وروسته به درته ووایم، اوس راځه چې د مور خواته لاړ شو.
ما چې فکر وکړ، هېڅ مې دا مهم ونه ګڼله چې هغه ښځه راته معرفي کړې، او ځان سره مې وویل فرید زما پسې زړه تنګ شوی ځکه وایې کور ته راځه، په همدې فکرونو کې په خوشحالۍ مورې دواړه کور ته ننوتلو، هغه ښځه چې حتی نوم یې نه پوهېدم، ژور او عجیب نظرونه یې په ما اچول، خو زه چې د فرید په لیدو کې ورک وم، هېڅ شي مې پام ځان ته نه اړاوه...

څو دقیقې وخت ووت او مورې ټول کور ته دننه شوو...
بیا فرید له خپلې کورنۍ سره روغبړ وکړ، او ټولو یې تود هرکلی وکړ...
د هغه شور او خوشحالۍ په منځ کې یو لوړ غږ راپورته شو چې ټول چوپ شول...
هغه زما د خواښې غږ و، د فرید مور چې له فرید څخه یې وپوښتل: دا ښځه څوک ده؟؟

د ټولو سترګې فرید ته واوښتې، او هغه ټولو ته وویل: هر څه به درته ووایم، لږ وخت راکړئ...
د فرید په خبرو سره تازه مې لږ هوښ سر ته راغلو او د زړه ضربان مې چټک شو، او ورختا شوم ترڅو پوه شم دا ښځه څوک ده؟
تر دې چې فرید د حویلۍ په یوه څنډه کې، چې لاندې یې د ونو سیورې وه، ټول راوغوښتل چې کېنې،ټول د پوښتنو ډکو ذهنونو سره، د فرید خولې ته ګورو چې څه به وایي!

یوه شیبه چوپتیا وه، بیا فرید خپلې مور ته وکتل او ویې ویل: دا ښځه زما مېرمن ده، هماغه نیایش چې ما درته ویل ورسره مې مینه درلوده، او تاسو حتی تیار نه وئ چې یو ځل یې هم وګورئ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فرید خبرې لا نه وې خلاصې چې مور یې په لوړ غږ له خپلې ځایه پاڅېده، او فرید یې په خپلو خبرو ملامت کړو، زه چې هېڅ مې خبرې کولو توان نه درلود، نیایش ته مې وکتل،له سره تر پښو مې وکتله او ورته مې سترګې په سترګو واچولې...
فرید له خپلې مور سره په خبرو بوخت و، ورته یې ویل چې نیایش د ده قانوني او حلاله ښځه ده،شپږ میاشتې مخکې د نیایش خاوند په جګړو کې شهید شوی و، او د خسرګنۍ کورنۍ یې یو نیم کلن ماشوم ورځخه اخیستی او بیرته یې نه ورکاوه. له دې وروسته دوی نیایش له کوره شړلې وه، د هغې طلاګانې او د کور ټول شیان یې هم اخیستي وو...

نیایش فرید ته پناه وړې وه، ځکه چې فرید تل هغې کلي ته تله چې نیایش پکې اوسېده.فرید د نیایش د خاله سره خبرې کړې وې، ځکه نیایش مور او پلار نه درلودل او د خپلې خاله سره اوسېده. بیا دوی نکاح کړې وه او څه موده یې د یو بل ترخنګ ژوند هم تېر کړې وو، اوس دوی دلته راغلي وه!

فرید هره کلمه په لوړ غږ ویله او خپلې مور ته یې کتل او ویل یې: ما ستاسې خبره ومنله او له هغې نجلۍ مې واده وکړ چې تاسې یې غوښتنه کړې وه، خو ونه توانېدم چې خپل لومړی مینه هېر کړم او هغه یوازې پرېږدم. ما یو ځل ستاسې په غوښتنه خپل ژوند تباه کړ، خو دا ځل هېڅوک حق نه لري چې ماته ووایي څه وکړم. ما نکاح کړې او خپله ښځه مې کور ته راوړې ده.هیڅوک د اعتراض حق نه لري. څوک چې خوشحاله نه وي، دروازه ورته خلاصه ده. لاړ دی شي پر مخه یې ښه ...

د فرید خبرې داسې وې لکه ماته یې چې ویل، او زه چې حتی د خبرې کولو توان مې نه درلود، یوازې یوې څنډې ته ناسته وم او کتل مې،د څو ساعتونو شخړو وروسته پرېکړه وشوه چې نیایش به زموږ سره په یوه حویلي کې د فرید د دوهمې ښځې په توګه ژوند کوي.د لیوره ښځو مې خپلې سترګې زما لوري ته اړولې وې، لکه چې انتظار کې وه ترڅو زه یو څه ووایم، خو ما ته خو حتی د هېڅا لوري ته د کتلو توان

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم نه و پاتې. حویلي مې پرېښوده، کوټې ته لاړم، دروازه مې بنده کړه، او پښې مې سستې شوې او پر ځمکه ولوېدم.

لکه چې څه شی زما د ساه اخیستو مانع کېده او زړه مې په سینه کې ټوپ وهلو لکه چې کوټه، انځورونه، د کوټې سامانونه او بستره ټول ما ته ځېر وو. دا منل ډېر سخت او ناممکن وو.ساعتونه مې له ځان سره جګړه وکړه، و مې ژړل، ماته شوم او هر څه مې ګډوډ کړل. له څو ساعتونو جګړې وروسته مې سکون پیدا کړ او پر ګډوډه کوټه کې وغځېدم، او د چت لوري ته مې کتل.

د وخت له تېرېدو او د دروازې له ټکولو نه وم خبر، خو داسې آوازونه مې اورېدل چې ما یو چا ماته ناري وهلې: مریم، څنګه یې؟ مریم، غږ وکړه! مریم، دروازه خلاصه کړه!
زه د هغو ټولو غږونو نه په ناپامه پاتې شوم او د خپل حالت نه راوتلی نه شوم. وروسته مې د دروازې د ماتېدو احساس وکړ او پوه شوم چې فرید زما لوري ته راغی.زه بې حاله پر ځمکه پرته وم، هغه زه پورته کړم، بیا یې ټول بدن راته وکتل چې خدای مه کړه، زخمي شوی خو نه یم؟ په اندېښمن حالت کې یې ما څخه پوښتنې کولې.

خو ما یوازې د هغه لوري ته وکتل او پوښتنه مې وکړه: فرید، زما څه شی کم وو چې تا راسره داسې وکړل؟

فرید چې خپل سر یې زما خواته ټیټ کړی و، په نامردی ځواب راکړ: ما هېڅکله له تا سره مینه نه درلوده. ما هغه څه وکړل چې زما زړه غوښتل. که ته یې ومنې، دا به زموږ ټولو لپاره ښه وي. که یې نه منې، طلاق اخیستلی شې او خپل ژوند جوړولی شې له هغه چا سره چې تا ته واقعاً اهمیت درکوي.

ما په ژړغونې سترګو او په موسکانه شونډو ورته وکتل او ورته ومې ویل: ته وایې چې زه دې خپل ژوند جوړ کړم؟ هو، ستا لپاره خو دا اسانه ده چې خپل ژوند جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې. خو زه چې تباه شوې، ټوټې ټوټې شوم او خپل مينه مې د بل چا سره وليد، زه به څه وکړم؟ فريد، تا زه وسوځولم، تباه دې کړم، حال دا چې ما ستا لپاره څه شی کم نه و کړي!

فريد وويل: مريم ځان ته راشه. زموږ ژوند له لومړي سره هېڅ ښکلا نه درلوده. نو بېځايه دې ځان مه ځوروه. ما هڅه وکړه چې ژوند جوړ کړم، هم ځان او هم تا ته، خو ونه توانېدم. زما احساس درک کړه.

فريد د تل پشان داسې جملې وويل چې د ځان دفاع يې وکړه او زه يې له ځانه لرې کړم، وروسته له خبرو څخه يې کوټه پرېښوده.زه پاتې شوم او يو نړۍ حسرت او يو دنيا غم زما په زړه کې پاتې شو.ما شپه په خپله تياره کوټه کې تېره کړه او د هېچا خبرې مې ونه منلې.په سهار وختي مې له لوړي او خراب حالت سره کور پرېښود او د خپل پلار کور ته لاړم.هلته لاړم چې ټولو راته ګواښونه کول چې ولې مې هغه وخت طلاق وانخيست او له فريد څخه جلا نه شوم. کله چې دوی راته ويل؟

لکه چې هر ځای زما لپاره زندان شوی و. مور او پلار مې نصيحتونه کول او تل به يې ويل: دا هغه کار دی چې اوس وشو. يو سړي ته د څلورو ښځو حق شته.

خو ولې کله چې ښځه يې له هر اړخه بشپړه وي، بيا ولې بايد څلور ښځې واخلي؟ ځکه چې زموږ له واده درې کاله تېر شوي وو او د فريد په کور کې ماشوم نه و شوی.ټولو زه ملامته ګڼلم، په داسې حال کې چې له دې بې خبره وو چې فريد هېڅکله زما سره د ماشوم لرلو لپاره اړيکې نه جوړولې او نه يې غوښتل له ما څخه ماشوم ولري.

د پلار کور راته جهنم شو. څه وخت مې هلته تېر کړ، بيا مې پرېکړه وکړه چې بېرته د فريد کور ته لاړه شم.

هغه خراب وضعيت مې قبول کړو بله چاره مې نه درلود ...
د فريد خندا مې د بل چا سره وليدله، ټول دردونه مې پر ځان ومنل او بېرته خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور ته لاړم...
ټول څه ښه ول، ټولو نیایش قبوله کړې وه، حتی زما خواښې..
د فرید او د هغه د مېرمنې کوټه زما کوټې ته نږدې وه. نیایش هم د کور د ښځو او نورو خلکو سره ډېره جوړه وه او ټول یې خوشحاله ساتل..

خو زه برعکس له ټولو لرې وم، له کوټې نه به ډېر لږ راوتلم. یوازې به مې د هغوی د خندا غږونه اورېدل او د فرید هغه مینه چې نیایش ته یې درلوده...
ورځې تېرېدې، او هره ورځ زما لپاره د خپلې کوټې دننه ژوند نور هم سختېده.
داسې راته ښکاره کېدل چې نږې او زمانه هیڅ ځای نه راکوي. هیڅوک زما په فکر کې نه ول، او زما د حال پوښتنه هېچا نه کوله.

یوه ورځ د مازدیگر په وخت کې د کور باغ ته لاړم. باغ چې د کور له حویلی څخه بهر و، هر ډول مېوه لرونکي ونې پکې وې؛ د انځرو ونې، منې، توت، د انګورو تاکونه او نور...
په باغ کې مې قدم واهه، چې د قدمونو غږ مې احساس کړ. څلورخوا مې ولیده، خو هیڅوک نه و. بېرته مې فکر خپل ځان ته راوګرځاوه، چې ناڅاپه د یوې ډېرې ګوزار مې محسوس کړ. فکر مې وکړ چې څوک به راسره شوخي کوي. د انځر د ونې لاندې لاړم چې هلته د سیوري لاندې لږ کېنم.

ناڅاپه مې د کاکا ولید غږ واورېد، هغه سړی چې د باغ ساتنه کوول، هغه په وارخطای راغی او په خښمجن مخ یې راته وویل: ناوي ! ته دلته څه کوې؟ ایا نه پوهېږې چې د مازدیگر له لمانځه وروسته د کور هېڅوک دې سیمې ته نه راځي؟
په حیرت مې ورته وویل: ځنګه؟ پوهه نشوم؟
کاکا ولید وویل: بچې، تاته نه دي ویل شوي چې دې خوا ته هېڅکله رانشې؟
– ویل شوي وو، خو دلیل یې نه و راته ویلي، تاسې وواياست.

کاکا ولید- بچې، دې ونې سره هغه بې نومه موجودات دي چې ډېر خطرناک دي. له مازدیګر وروسته هېڅوک دې خوا ته نه راځي، ځکه دلته ډېرو کسانو ته زیان

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسېدلی.

– یعنې تاسو وایاست چې پیري لري؟ زه دې خبرو ته باور نه لرم، کاکا ولیده.

کاکا ولید- بچې، دا ستا د باور خبره نه ده، دا د دنیا او طبیعت قانون دی. پیریان هغه موجودات دي چې د انسانانو نه مخکې یې پر ځمکه ژوند کاوه او اوس هم شته. خو هغه موجود چې د دې ونې لاندې او د دې چقرۍ دننه ژوند کوي، د پیریانو څخه هم ډېر خطرناک دی، په پنځو ثانیو کې انسان د یوې تورې لرګې ټوټې ته بدلوي.

د کاکا ولید خبرې زما زړه ته یو څه ویره راوسته، نو دواړه له باغ څخه ووتلو. د کور هغه دروازه چې باغ ته یې لاره لرله، کاکا ولید قفل کړه چې ماشومان ناڅاپي باغ ته داخل نه شي.زه چې په خپل خیالي دنیا کې ډوبه وم او د پیرۍ خبرې راباندې چندان اثر نه کوو، د مظلومۍ په حالت کې پخلنځي ته لاړم. هلته مې د کور ښځې د نیایش سره په خبرو او خندا ولیدلې. چې کله زه پخلنځي ته داخل شوم، ټولې چوپ شوې او خبرې یې بندې کړې، لکه زه چې یو میلمنه اوسېږم.

د څو دقیقو وروسته مې حوصله ختمه شوه، له پخلنځي بهر شوم. چې بهر شوم، بېرته مې د دوی د خندا غږونه واورېدل.همدلته مې زړه کې کینه او کرکه ولوېده، او هره ورځ دا کینه ډېره کېدله. د ټولو توجه د نوي ناوي نیایش په خوا وه، او زه هېره شوې وم. هره ورځ مې زړه د غصې او دښمنۍ ډک کېده، تر دې چې یوه ورځ د نیایش د امېدوارۍ خبر مې واورېد.

دا خبر زما لپاره د قیامت په څېر و. یوازې څلور میاشتې یې په کور کې شوې وې، خو زما د مېړه ټول پام له ما څخه لرې شوی و، داسې چې زما په هېڅ فکر یې نه و. یوازې زما خواښې وه چې زما حال به یې اخیست او په فکر کې مې وه. د دې ټولو خبرو نه وروسته مې احساس وکړ چې نړۍ زما لپاره زندان شوې. نه مې د ځان سره مینه پاتې وه، نه د نورو سره. یو ورځ مې پرېکړه وکړه چې نیایش به ختمه کړم ...!

د غرمې وخت وو ټول خپل په کوټو کې وه.

د نیایش د دیګ ډوډۍ نمبر وو، یواځې ځان لګیا وه په پخلنځي کې یې ډوډۍ پخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ول، زما لاس کې یو لوي تېز چاقو وو پخلنځي خوا ته روانه شوم، هلته په رسید هغې زما خواته کوم پام ونکړو او همداسې خپل په کار لګیا وه دوه درې ځله مې کوښښ وکړو ترڅو ورباندې برېد وکړم خو و مې نشو کړې!

هرڅومره کوښښ مې چې وکړو بیا هم ونه توانیدم ما خپل لاسونه پر وینو نشو لړلې، غوښتل مط د پخلنځي څخه لاړشم او خپل کوټه کې خپل پر بدبختیانو وژاړم چې نیایش را پسي غږ کړو: مریم د الیاس خور ته ووایه ترڅو راشې دا د تناره اېرې بهر خالي کړې، سهار د تناره د ډوډۍ پخه ولو نمبر دې، نیم ساعت وروسته ماښام کېږي او د باغ دروازه بنده وي بیا دا اېري ماښام همدلته پاته کېږي ...

د نیایش خبرې ته مې کوم ځواب ورنه کړ او کله چې مې غوښتل له هغه ځایه لاړ شم، یو فکر په ذهن کې راغی...
نیایش د باغ د پېښې په اړه هیڅ خبر نه وه،ځکه زما خسرګنې څخه هېچا اجازه نه درلودل د باغ په اړه داسي کیسي وکړي چې هلته پیران او داسې شیان دی! ځکه هغوي نه غوښتل د کورنۍ غړي و وېرېږي! ما هم له همدې فرصت څخه ګټه واخیسته او نیایش مې په تند خبرو او پېغورونو دېته تیاره کړه ترڅو د تناره اېري هغه خپله د باغ دننه هغه خالي ځاه ته ویسي!

ما ورته وویل: الیاس او د الیاس خور ستا نوکران نه دی، ولې خپله نه ځې او دا نه خالي کوي اغلې ملکي؟
هغه چې بې زبانه او عاجزه ښځه وه، زما خبرو ته یې غلی پاتې شو او وروسته یې وویل: تاسو رښتیا وایست، سمه ده، خپله به لاړه شم.

ما چې د فرښتو جامې اغوستې وې او غوښتل مې خپل غیر انساني هدف ته ورسېږم، نو هغې ته مې د مرستې وړاندیز ورکړو او ورته مې وویل چې د ایرو ډکه کاسه به د باغ تر دروازې ورسره ویسم او هغه ځاي به ورته ښکاره کړم چیرته چې ایرې اچول کېږي حتا ورسره وعده مې وکړه چې زه به د باغ د دروازې سره د هغې د راتلو انتظار کوم ترڅو هغه و نه وېرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې چې زما دا خبره واورېدله چې زه به انتظار ورته کوم ترڅو ونه ډاره شې نو هغه بېحد خوشحاله شوه او فکر يې وکړ چې زه د صلحې او دوستۍ اراده لرم!

هوا تياره شوې وه، په باغ کې دننه د مرغانو غږونه او چغې پورته شوي وه، بغير زموږ د پښو او د مرغانو د غږونو بغير هېڅ آواز نه تر غوږ کېدي. ما د تيلو څراغ روښانه کړو او د نيايش شاته روانه شوم، کله چې د باغ دروازې ته ورسيدو نو هغه و درېده او زما څخه يې پوښتنه وکړل چې ايرې چيرته خالې کړې؟

ما ورته د باغ دروازه پرانيستل او اشاره مې وکړه او ورته مې وويل: چې ايرې د انځر د ونې لاندې خالې کړې ځکه ټولو دا ځای انتخاب کړی وو.
هغه چې لږ، لږ وېرېدلې وه، زما خبره يې ومنل، خو د مخکې تلو جرئت يې نکوو او په خوار نظر يې زما خوا ته راکتل چې شايد زه ورسره د دننه تلو ست وکړم! خو ماورته وويل چې زه به همدلته درته په تمه اوسېږم او ته لاړه شه باغ يودم پاک دی او هېڅ شې نشته د وېرېدلو لپاره.
زما په خبرو هغه ناچاره شوه او په سست ګامونو باغ ته ننوتل، زه د باغ دروازې ته ودرېدم، خو مخکې لاړ نه شوم. نيايش چې څومره د ونې خواته نږدې کېدله، هوا لا تياره کېدله.

ما له لرې ورته کتل هغه چې کله د انځر د ونې لاندې هغه د ځاه پشان کندې ته نږدې شوه او ايرې خالې کړل، نو ما د هغې يو زورور چيغه واورېده او د هغه چغې سره سم زه له هغه ځايه وتښتېدم ترڅو څوک ما حالته ونه ګوري.

زه خپل کوټې ته لاړم، دروازه مې بنده کړه او په ځمکه کښېناستم. د يو شيطان په څېر مې ځان حس کړ، او انساني احساس مې له لاسه ورکړ. خپل سترګې مې څو ځله وربولې او لځايه پاڅېدم يو ګيلاس اوبه مې وڅښلې او له پورته منزل څخه مې لاندې د حويلۍ وضعيت څارلو. هېڅوک هلته نه وو، او د نيايش چيغه هېچا نه وه اورېدلې، ځکه چې د شپې لخوا د کورنۍ ټول کسان به پورته منزل ته تلل او هلته به يې مجلس کاوه او د لاندې منزل بيا بلخصوص د باغ غږونه به پورته منزل ته نه تلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه چې حویلۍ ته ځیره وم، په یوه شېبه کې مې ولیدل چې نیایش له باغ څخه را روانه ده او په لاس کې یې همغه د اېرو ډکه کاسه ده! زه حیرانه شوم، ځکه چې هغې هېڅ زیان نه وه لیدلی. نه پوهېږم ولې په شېبه کې مې د خپل شیطانی عمل څخه د پښېمانتیا احساس وکړو او لدي چې نیایش روغه رمټه وه د زړه له تل خوشحاله شوم.په بیړه د پخلنځي په لور روان شوم، غوښتل مط د هغې څخه بخښنه وغږام خپل پدی شیطاني کار کله چې ورسېدم، و مې لیدل چې نیایش په دیګ لګیا ده او ډوډۍ تیاروي.

هر څومره چې کوښښ مې وکړو خو ومې نشو کړې بخښنه ورڅخه وغوارم اخر بغیر د کوم څه ویلو غوښتل مې له پخلنځي څخه ووځم چې پام مې دیګ ته شو. له دیګ څخه داسې دود پورته کېده، لکه چې یو څه سوځېدلي وي!؟
ما نیایش ته غږ وکړ، خو هغې ځواب را نه کړ. کله چې ورته ور نږدې شوم، و مې لیدل چې په دیګ کې وریژو کې د تناره اېري اچولې او هغه یې خوځوله. ما له قهره غوښتل د هغې سره جنګ وکړم چې ولې داسې کار کړې خو کله چې مې د هغې څېره ولیدله...

د هغې سترګې دومره غټې شوي وی چې د سترګو له کاسې راوتي وي، د سترګو تور یې تللې وو او ټول سپینوالي وو! کله مې چې د هغې سترګې ولیدې، زما غږ په ستوني کې وچ شو، د هغې لاسونه ته مې وکتل چې تور او په اېرو پوښلي شوی وه، او هغې خپل لاسونه په ژبه لګول او ستل یې! نیایش په همغه وحشتناک نظر ما ته سترګې نیولې وه، او هېڅ خبري یې نه کولې.

زه چې نور ونه توانېدم،د ډېر وېري څخه بې هوشه شوم. کله مې چې سترګې خلاصې شوې، خپل کوټه کې وم او فرید مې څنګ ته ناست و. ټول د کورنۍ کسان هلته وو.ما فکر وکړ چې دا یو بد خوب و. ژر مې فرید غېږ کې ونیوه، او له ټولو مې پوښتنه وکړه چې نیایش چېرته ده؟ هغوی راته وویل چې د شپې د تناره پاک کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت کې د هغي ښځه په غلطي کې وريژو ته ابري اچول شوې وه کله چې مورې ورته لرې خبري وکړل نو هغه خفه شوه او په ژړا خپلې کوټې ته لاړه..

ما له وېري هېڅ ونه ويل او ټول ورځ مې په خپل کوټه کې په دعاګانو تېره کړه.
نژدې د ماښام وخت و چې د فريد غږ مې د هغه له کوټې ښځه واوريده چې خپل مور ته يې چغي وهل! ځکه چې د هغه کوټه زما د کوټې څنګ ته وه نو ما يې غږ اوريده، چې هر دقه يې غږ جګ کېدو او خپل مور ته يې غږ کاوه، زه خپل د کوټې څخه و نه وتلم، خو د هغه غږ هر لحظه لوړېدو. کله چې د هغه مور او نور د کور ښځې د هغه کوټې ته دننه شوې، زه هم مجبور شوم چې وګورم څه شوي دي؟

کله چې کوټې ته ننوتو نو ټول حيران شو! ما وليدل چې نيايش خپل پر ځان باندې لکه مار را څرخي. خپله خېټه يې نيولې وه او په درد يې چغي وهل! ناڅاپه د فريد مور د نيايش جامو ته پام شو، داسې ښکارېده چې د نيايش له بدن څخه وينه او ابري يوځاې راوتلې او ټولې جامې يې خيرنې شوې دي ...

ټول وېرېدلې وو، او يواځې مو دوه سترګې نيايش ته نېولې وه.خواښې مې د کوټې ځخه ټول نارينه وويستل، او يواځې مورې ښځې پاتې شو، خواښې مې د نيايش خوا ته نږدې شوه د هغې سر ته کښېناسته او د لور مې، ناوې او جان او قربان پر ويلو يې غوښتل ورسره خبري وکړي، خو نيايش يواځې پر ځان څرخېده او چغي وهلې خپل لاسونه يې خپل پر نس کېخودلې وه او خپل مخ يې خپل په تور وېښتيانو کې پټ کړې وو او يواځې د درد چغي وهل بس..

مورې ټولو د مازديګر اذان ته پام شو، کله چې ملا اذان ورکړ نو نيايش هم آرامه شوه او سترګې يې پټې شوې، داسې ښکارېده لکه چې ويده شوې وي...
وروسته د فريد مور وويل: چې دا عادي حالت نه دی، دا داسې ښکاري چې کوم څه د دې پر بدن ناست دي.!
د کور ښځو ټولو "بسم الله" وکړل او وډارې شوې، د فريد مور په ژور نظر د نيايش نس ته کتل بيا يې ناڅاپه و ماته وويل: د نيايش د پښو لاندې ځايه لرې شه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورې ټول يو څه لرې لاړو، نيايش خپل ځان آسمان ته پورته کړ او ناڅاپه يې نس داسې غټ شو لکه د هغو ښځو چې د ماشوم زيږيدو وخت وي. د نيايش نس هم همداسې شو.

د هغې مخ سور شو، شونډې يې شنې شوې او هيڅ يې نه ويل، يواځې چغې وهلې او کله کله يې زورنه وهل، داسې لکه ماشوم چې پيدا کېدونکې وی! ور کله يې لاسونه موټ کول د درد څخه او کله يې پښې ځمکې ته ټېنګولې، داسې ښکارېده چې په ډېر عذاب کې وی.

زه لکه مړه انسان داسې شوی وم، زما حال ښه نه و د دې حالت په ليدلو. د کور ښځې بيخي وتښتېدې له کوټې څخه کله چې فريد دا صحنه وليده، ناڅاپه په ځمکه کښېناست او خپل لاس يې په خوله ونېو..
څومره چې تياره ډېره کېده، او شپې ته نږدې کېدو هغومره د نيايش عذاب زياتېده، هغې چيغې وهلې او نس به يې کله ناڅاپه غټېده او سختېده، داسې لکه ماشوم چې پکې وي، او کله به بيرته عادي حالت ته راتلو، د هغې خوله د اېرو په شان توره شوې وه.

فريد خپل اوخښې ته چې د قرآن حافظ و او دعاګانې يې کولې، راوست هغه يو ساعت د نيايش څنګ ته ناست وو او قرآن شريف او دعاګانې لوستلې، مورې ټول ناست وو چې يو ځل ناڅاپه نيايش پاڅېده او د فريد د اوخښې په خوله کې په تلوار خپل دوه ګوتې دننه کړل او چيغه يې کړه. بيا يې لوړ لوړ غږ وخندل او بيرته خپل پر ځاې څملېده..

د فريد اوخښې خپل په دواړو لاسونو سره خپل مرۍ کلک و نيول، او خبرې يې نشواې کولی، له کوټې بهر ووت او داسې معلومېده چې حال يې خراب وی څو دقيقې وروسته مورې پوه شو چې هغه خبرې نشي کولی، سمدستي يې هغه يې کلينيک ته بوتلو چې معلومه کړي څه ورسره شوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورې ټول بیرته نیایش ځنګ ته راغلو او د هغې عذاب باسل مو کتل. هېڅ مو نشوای کولی.د نیایش چیغې دومره شدیدې شوې چې هېڅوک یې ځنګ ته نشوای پاتې کېدی.مورې مجبور شو چې له کوټې ووځو او دروازه پر هغې باندې قلف کړو.

هیڅوک هغه شپه ونه توانېدو چې ویده شي. د نیایش چیغو او فریادونو ټوله حویلي نیولې وه. د هغې اواز بیخي بدل شوی و.څو ساعتونه یې چیغې وهلې، بیا یې غږ ورو ورو ختم شو. مورې ټول د بام پر سر ولاړ وو چې ناڅاپه مو د نیایش د کوټې د کړکۍ د خلاصېدو غږ واورېده! د هغې کوټه په درېیم منزل کې وه. ناڅاپه مورې ټولو ولیدل چې نیایش د کړکۍ نه د ونې ښاخ ته چې تقریبا یو متر د کوټې څخه واټن درلود په یوه عجیب ډول ټوپ کړو، او بیا د هغې له لارې د ځمکې په لور روانه شوه.

په داسې حال کې چې مورې ټول تر مرګ ډارېدلي وو، ځکه کله چې نیایش د ونې په سر روانه وه، د هغې حرکت بیخي ډارونکی او غیر انساني و. د فرید مور چې زړوره ښځه وه، د نیایش وروسته روانه شوه ، مورې ټول هم ورسره روان شو.په پای کې مو ولیدل چې نیایش پخلنځي ته ننوته، مورې هم ورپسې ننوتلو چې ګورو نیایش تنور کې لاسونه وهې او د هغه اېرې خوري؟ کله چې مورې هغې ته ورنږدې شو، هغې یو څه اېرې په خپلو لاسونو کې ونیوله او بیا له تنور څخه لرې شوه او د باغ پخوا روانه شوه.

فرید غوښتل چې نیایش ته نږدې شي، او د هغې مخه ونیسي خو مور یې اجازه ورنه کړه او ورته یې وویل: د انجیر د ونې لاندې کوم شیانو هغه رانیولې ده او پر هغې ناست دي ...

فرید چې هرڅومره هڅه وکړه ترڅو د نیایش پسې لاړشي، خو مور یې اجازه ورنکړه، د دې حالت په لېدو ټول ډېر خپه وو. د ټولو څخه زه! چې د دې تولو کارونو سبب وم توبه مې وباسل او دعاګاني مې وکړل خو کار تر کار تېر وو! فرید په ژړا او زارۍ و، خو مور یې اجازه نه ورکول چې باغ ته لاړ شي.هغه شپه ټولو په حویلي کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېره کړه. نږدې سهار و چې نیایش په خپل عادي غږ چیغه کړه او د ابرو ډکې کندې
څخه راووتله.

فرید د هغې د مرستې لپاره منډه کړل او هغه یې د ابرو د کندې راوویستله او کور ته
یې راوړه. نیایش چیغې وهلې او ژړل یې، خو هېڅ خبرې یې نه کولې. مور هغې ته
غسل ورکړ، خو د هغې له لمنې څخه ابرې او وینه بې له کومې وقفې بهر کېده.
وروسته مو هغه په خپل ځای کې پرېښوده، خو په زخمونو او ټپونو پوښلې شوی وه
داسې لکه چا چې هغه وهلې وي!
مور هغې ته حمام ورکړو او نوي کالی مو ورباندی واغوندل، نیایش بې له دې چې
ډوډۍ وخوری یا کومه خبره وکړي په وېرې او وحشت د فرید غېږې ته یې پناه
ویوره او ویده شوه!

زما خواښې کلي ته لاړه او هلته یو کس چې خلکو ورته شیخ ویلو او تعویذونه او
دمونه یې کول کور ته یې راوست، او نیایش یې ورته وښوده،کله چې شیخ ورته
راغی او هغې ته یې وکتل، یواځې یې په غمجن نظر د فرید مور ته وکتل او پرته له
دې چې څه ووایي، ځینې دعاګانې او تعویذ ورکړل او ولاړ. د تلو مخکې یې یوازې
وویل: دعا وکړئ خدای مهربان دی، مور بندګانو له لاسه څه نه کېږي..

مور ټول ډېر خواشیني وو، زما د یوه لېوره ښځه د ډېر وېرې له لاسه خپل د مور
کور ته ولاړه...
مور ټولو ټولع ورځ له ډېرو ستونزو او کړاوونو سره تېره کړه، کله چې د مازدیګر اذان
ته نږدې شوو، نو نیایش بیا چیغې وهل پیل کړل او ځان یې وهلو.هغه ټوله ورځ
ویده وه، هیڅ ډوډۍ یې نه وه خوړلې. کله چې مازدیګر شو، بیا یې چیغې وهل پیل
کړل،خپل ویښتان یې شکول، خپل لاسونه یې دیوالونو ته ټکول تر دې حد چې له
وینو ډک شول. نوکان یې ټول زخمي او له وینو سره لړل شوي وو. د خولې رنګ یې
تور شو او له خولې یې یو مایع راوتل چې د ابرو سره ورته وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غږ يې بدل شوی و، سترګې يې يو څه لويې شوې وې او د سترګو تور برخه يې پوره سپينه شوه. هر چا هڅه کوله چې هغه ودروي، خو دا ممکن نه وه. خېټه يې هره شېبه لويېدله او بيا کوچني کېدله، هغې هر څوک چې ورته نږدې شوی وايې وهلو او داسې معلومېده لکه چې هغه ډېر ځواک ولري! يو غير معمولي او بېحد زيات زور يې درلود د هيچا زور وربانديې نه رسېدو..

بيا هغه له خونې ووتله او له کړکۍ څخه په يوه ونه ټوپ کړو او بيا په څلورو لاسونو او پښو په باغ کې وګرځېده. که څه هم باغ بند و، خو چې موږ ورسېدو دروازه خلاصه وه او نيايش د انځر ونې سره ناسته وه.موږ ټول په انګړ کې ولاړ وو او هغې ته مو کتل. ناڅاپه له باغ څخه انګړ ته ډېرې راغورځېدل پيل شول، نيايش يوازې په يوه کونج کې ولاړه وه، خو ډېرې او تيږې په ډېر زيات شمېر د انګړ خوا ته راغورزيدي.

وروسته نيايش د انځر ونې سر ته وخته او يوازې د هغې د ژړا غږ مو اورېدای شو. داسې بريښېده چې ډېره زياته صدمه پرې راغلې وي. او درد لرې! د هغې ژړا ډېره پر درده او لوړ غږ لرله. غږ يې د هغې خپل نه و؛ داسې ښکارېده لکه بل څوک چې ورسره يوځای ژاړي.

تر سهاره مو سترګې پټې نه کړې. کله به انګړ ته ډبرې را غورځېدلې، کله به د باغ دروازه په شدت خلاصېده او بندېدله. موږ ټول له خبرو او حرکت کولو بې وسه وو. يوازې د خواښې زړه قوي و او ټولو ته يې دلداری ورکول، فريد يوازې نيايش ته کتل او ژړل يې.. ټوله شپه مو له کړاو او غم سره تېره کړه، بيا سهار ته نېږدې شوه او نيايش د انځر ونې سره بې هوښه ولوېده.
فريد هغه راوستله، جامې مو ورته بدلې کړې، خو په سترګو يې توره حلقه چاپېر شوې وه او بېحد کمزورې شوې وه هېڅ د خبرو توان يې نه درلود.

فريد پرېکړه وکړه چې هغه ملا يا داسې چا ته يوسي ترڅو ويې ژغوري، خو نيايش نه غوښتل او د تلو څخه يې انکار کاوه، هغه دومره درنه شوې وه چې د فريد او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېچا زور پرې نه رسېده. ترخو پورته یې کړي.هغه ورځ مورې ټولو یوازې د نیایش لپاره دعا وکړه، په ځانګړې ډول ما. خو هېڅ ګټه یې ونه کړه...

کله چې بیا مازدیګر شو، نیایش ارامه وه، چیغې یې نه وهلې، خو یوازې یې عجیب عجیب زمورې ټولو خوا ته راکتل، سترګې یې ګردې شوې وې او هر چا ته یې په عجیب ډول کتل. کله چې ماښام ته نېږدې شوو له خونې ووته. هېچا یې مخنیوی نه شو کولای. هغې ټول وهل او هېچا زور نه پرې رسېده.له زینو ښکته شوه، مورې هم ورپسې لاړو. هغه د پخلنځي خوا ته لاړه او په تنور کې ننوته. څومره ابرې چې په تنور کې وه هغه یې وخوړل چې سترګې یې له وینو ډکې شوې او ساه یې بندېدله.فرید چې د هغې د مخنیوی لپاره ورنږدې شو هغې فرید ته داسې کلکه ضربه ورکړه چې شاوخوا یو ساعت بې هوښه پر ځمکه پروت و.

څو دقیقې وروسته چې ښه پریمانه ابرې یې وخوړلې، سر یې ښکته کړو او تنور کې ځملېده، هېچا جرئت نه کاوه چې ورنږدې شي او وګوري چې څه وربانديي وشول؟ خواښې مې د آیت الکرسي په لوستلو جرئت وکړو او هغې ته نږدې شوه! نیایش په تنور کې بې هوښه پرته وه.مورې هغه راوویسته، بېره سپکه وه، خو لاس او پښې یې سارې شوي وو. د هغې د لمنې څخه وینه او ابرې څڅېدل او ډېر وینه یې له لاسه ورکړې وې.

کله چې کلینیک ته مو ورسوله، متاسفانه، هغې خپل وروستی سا په هماغه تنور کې ورکړې و. ډاکټرانو وویل چې معده یې د ایرو ډکه شوې ده او د ابرو د ډېر خوړلو له امله له منځه تللې ده ...

د نیایش په مړینې زه ماته شوم او د عذاب وجدان ښکار شوم. شپه او ورځ مې په وېرې او غم کې تېرېده،د نیایش له مړینې وروسته فرید مات شو او په بشپړ ډول یو رواني انسان شو.درې میاشتې وروسته، هغه کور پرېښود او راته یې وویل چې بېرته نه راګرځم. او طلاق یې ولاړه شه خپله ژوند جوړ کړه.هر څومره چې مو هڅه وکړه هغه ته قناعت ورکړو خو ګټه یې ونکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له تګ ورانديږ، هغه راته د نيايش حقيقتونه بيان کړل.
هغه راته وويل: ما نيايش بې حده زيات خوښوله او هېڅکله مې نه شوای هېرولی، که څه هم د نيايش خاله هغه ماته رانکړه او پرته له دې چې له ما سره خبره وکړي، هغه يې چا ته ورکړ چې په نيايش مين وو خو نيايش هم زه خوښه ولم، خو کله چې ما د کورنۍ له مجبوريت واده وکړ، نيايش زما څخه نامېده شوه او مجبور شوه چې هغه هلک سره واده وکړي چې پردي مين وو.

ما هېڅکله هغه هېرولی نه شوای، هميشه مې له لرې ورته کتل. تر دې چې ميني مې مجبور کړم داسې کار وکړم چې هېڅکله مې نه غوښتل.نيايش ماشوم درلود او ما به ليدل چې هغه خپل د خاوند او ماشوم سره خوشحاله ده. خو زما مينه به څنګه شوی وايې؟ زما محبت به څنګه شوی وايې؟ ما هغه نشواې هېرولې. يوه ورځ مې پرېکړه وکړه چې د هغې خاوند په دام کې واچوم. د خپلو څو ملګرو په مرسته مې د هغې خاوند وواژه.

بيا مې داسې کار وکړ چې د نيايش خسرګنې فکر وکړي چې هغه له ما سره خپل د خاوند له مړينې وروسته نامشروع اړيکه لري! کله چې هغوي داسي فکر وکړو نو د نيايش څخه يې د هغې ماشوم واخيست، هر څه يې ترې واخيستل او نيايش يې له کوره وويستل، دی وخت کې زه د هغې مخي ته لاړم او هغې پر ما خپل د بچ کونکي فرښتي ګمان وکړو او ماته يې پناه راوړل او ما هم د هغې د مجبوريت ګته واخيسته او ځانته مې نکاح کړه.

ما تل وېره درلود چې نيايش له لاسه ورنکړم! ځکه ما هغه د غلطي لاری څخه تر لاسه کړې وه ما د هغې خاوند مړ کړې وو او د هغې ماشوم مې ورڅخه اخيستې وو، او ورته دروغ مې ويلې وه زه تل په همدې وېره کې وم او بالاخره هم همدا وشول. خدای هغه له ما واخيسته، هغه هم په هغه ډول يې واخيسته چې زه يې تباه کړم د هغې په هر چغې زه مړ شوم، د هغې په هر ليونتوب زه ورژېدم،اوس زه هيڅ شی نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرم چې له لاسه یې ورکړم، او غواړم داسې ځای ته ولاړ شم چې هیڅکله د بل انسان مخ ونه ګورم. زه ډیر ګناهکار یم او خدای مې هېڅکله نه بخښي.

کله چې فرید زما سره ټول حقیقتونه شریک کړل، هغه زه پرېښودلم او طلاق یې راکړ او لاړ. او حتا اجازه یې رانکړه زه ورته د خپلو غلطیو په اړه ووایم، د فرید خبرې زما په زړهٔ باندې ډیر بوج راوست. ما څنګه د هغه بیچاره انجلۍ سره دومره ظلم وکړو؟ خدایه، څرنګه مې له هغه سره دا وکړل؟ د هغې حق کې ټول نړۍ ظلم کړي وو، د هغې حق کې د هغې میني لا ظلم کړې او ما ... ما هم ورسره ظلم وکړو او مړه مې کړه؟خدای دې ما وبخښي، زه د دې عذابونو سره ژوند نشم کولی.

د فرید له تګ وروسته زه پاتې شوم او هغه ټول عذابونه چې یوازیتوب او زما غلط کار لځان سره راته راوړل...

یو کال وروسته، زما خواښې وفات شوه د هغې د مرګ وروسته زموږ کور ویجاړ شو، کورنۍ مو پر جلا کېدو پیل وکړ، هر څوک خپل لاره ونیوله او زه د پلار کور ته روانه شوم او هلته مې ژوند ته ادامه ورکړه. هغه باغ او کور چې موږ پکې ژوند کوو، اوس په یو ویرانه او ډېران بدل شو ی وو. ځینې خلکو ویل چې هلته شهید وو هغه باغ کې او خلکو د هغه په قبر مرداری کړي وه نو ځکه داسې کیدل، ځینو بیا ویل چې هلته پیریان یا بلاګانې دی خلاصه هر چا یوه خبره کول، یدی وحشت او وېرې کې پر ما اته کاله تېر شول داسې اته کال چې هره ورځ یې زما لپاره د قیامت پشان وو، هره ورځ یې وېره او بدبختۍ وه..

اته کاله وروسته، پلار مې زه یو غریب او عاجز سړي ته واده کړم،هغه یو داسې سړی و چې لومړۍ ښځه یې مړه شوې وه او اولاد یې نه درلود. ژوند مې ښه شو او هر څه مې هیر کړل. زه د اولاد څښتن شوم دوه لوڼې او یوه زوی مې پیدا شو، لوڼې مې غټې شوی یوه لور مې واده وکړ، بله یې د نامزدي دوران کې وه.زوی مې بهر ته د زده کړو لپاره ولاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه پیښې ځخه ۳۰ کاله تېر شوي وه او ما بیخي لیاده وتي وه، زه خوشحال وم تر دې چې یوه ورځ خبر راغلو کوم لور مې چې هرات کې واده ده او هلته ژوند کوي، عجیب غریب کارونه کوي! دشپې لخوا لکه لیونیانو پشان له کور بهر وځي!

یو مولوی ورته ویلي وه چې پر هغې پیریان ناست دی او باید تدابیر ورته ونیول شي او یو سم مولوی ته یې ویسی، خو د هغې خاوند او خواښې دا خبرې نه منل او سر یې نه ورپسې ګرځه وو، زما لور تازه ماشوم زېږولې وو، ماشوم یې د ۲۰ ورځو وو یوه ورځ دوې پاځېږي او ګوري چې ماشوم یې مړ دی! او د ماشوم په غاړه باندې د یو چا د لاسونو نښې دی! داسې لکه چې ماشوم یو چا خفه کړي وی او په قصد یې مړ کړې وی!

خو د لور خاوند مې ویل نه ماشوم ماښام خوا ته کله چې مور یې ورته شېدی ورکول د ځان سره څنګ کې څملولې وو او د شپې لخوا د غلطي څخه یې هغه خپل د سینې لاندې کړې ځکه مړ شوی، خو هر څه چې وو د هغه ماشوم مرګ زما لور حالت بدتره کړو، د هغې د خاوند په خبره زما لور به هره شپه پورته منزل ته تلل چیغې وهلې او ژړل به یې او بالاخره یوه شپه له کوره وتلی او ځان یې له یو لوړ ځایه لاندې غورځولی او مړه شول!

د لور د مرګ وروسته، زما په زړه کې هغه تور یادونه بیا راویښ شول کوم چې ما ۳۰ کاله مخکې تجربه کړې وه، هغه لور چې ما په مینه او محبت رالویه کړې وه مړه شوی وه، د هغې مرګ زه بیرته ۳۰ کال شاته یوړم هره شپه مې د ویری او وحشت سره تېربده، ما صدقه ورکړل خیراتونه مې وکړل او د خدای څخه مې بخښنه وغوښتله، خو دا عذاب، او ویره او اندیښنې نه یوازې زما څخه لېرې نشوې بلکه زیاتې شوې.

زه یوه شپه بیغمه خوب نلرم، هر دقه په وېرې او وحشت کې یم زما یو غلطي زما ټول ژوند راخراب کړو، خدای د مظلوم حق اخلې او ظالم همداسې نه پرېږدي ما ظلم کړې وو او زه د هغه سزا تر اوسه وینم، زما ابدی ژوند خراب شو پر یوه ګناه، ماته

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعا کوي ترڅو خداي مې ګناه راوبښي او د دې مصیبت څخه نجات راکړي ...

د رټل شوي ناول پای.

لیکوال: نامعلوم.

ژباړونکي: خواجه زی.

ملګرو دا یو نوټ به زه ولیکم هغه ملګرو ته چې زما ناولونه وايې، خپل نظر راسره شریک کړي ترڅو پوی شم کوم لیکنه مې ستاسو خوښه ده او کوم مو نده خوښه شوی؟ ستاسو حمایت ماته مثبت انرژی راکوی نو حمایت مو کړي. زما د تلګرام چینل ته راشي زه هلته ناولونه نشر کوم زما شخصي ایډی @shuhab09 دا تلګرام کی سرچ کړی زما ایډی راځي او تاسو کولې شي خپل نظر راته ووایست. زه خپل نوي ناول هم همدی چینل کي نشر کوم ان شاءالله.

@shuhab09

د داسي نور ښایسته ناولونو د ویلو لپاره زموږ د ټلګرام چینل ته راشي دا هم زموږ د چینل لینک: https://t.me/pashtoonovels0

دا هم زما شخصی ایډی: @shuhab09

او دا هم زموږ د یوتیوب چینل لینک دلته غږیز ناولونه نشر کو..

چینل لینک: http://www.youtube.com/@PashtooNovls09

دا هم د مدیر د جمیل آدرس:shuhabkhan795@gmail.com

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library